# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

**شمېره:** ۳۶-۱۳۹۳

**موضوع:** د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور د رأیي پاڼو صندوقونو د تفتیش په بهیر کې د نوماندانو د استازیو د چلند اصول؛

**ځانګه:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء

**د غونډې نېټه او ځای:** د ۱۳۹۳ کال د زمري ۲۳مه، (د ۲۰۱۴ کال د اګست۱۴ مه) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر.

**حاضر غړي:** ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلې ګلالی اڅکزی، ښاغلی سریر احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی محمد عزیز بختیاري، ښاغلی قاضي سلیمان حامد، آغلې لیلا احراري او آغلې شریفه زرمتی وردک.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو قانون د ۵۵ او ۷۹ مادو د مندرجو حکمونو پر اساس پرېکړه کوي چې:

د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور ټاکنو د رأیي پاڼو صندوقونو په تفتیش بهیر کې د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور نوماندانو د استازیو د چلند اصول چې له دغه پرېکړه لیک سره ضمیمه دي، تأیید او تصویب دي او د نوماندانو استازي د هغو په مراعاتولو مکلف ګڼل کېږي.

| د پرېکړې مخالف | د غړیو نومونه | د پرېکړې موافق |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالی اڅکزی | |
| | ښاغلی سریر احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلیمان حامد | |
| | آغلې لیلا احراري | |
| | آغلې شریفه زرمتی وردک | |